پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۶/۱۰/۰۹

# لنډۍ او د لنډیو د ثبتولو ستونزه

## اوه ویشتمه برخه

## لایق او د لنډیو بحث

## ۲

«د پښتو د فولکلوري شعرونو په لړ کې د لنډیو
برخه واقعاً د ټول بشریت د فولکلوري شعرونو
د عظیمې شتمنۍ یوه مهمه برخه ده.»

سلیمان لایق

ستا یارانه د ناړۍ خوړ دی
د ناړۍ خوړ تر غنم لوه پورې وینه

په سر دې شل ګزه پګړۍ وه
زه دې له پکه سره څه خبره ومه

د دروازې ملنګ ته وایه
تکیه دې خدای شه، موږه ور پورې کوونه

کله مې چې د لنډیو په باب دا څېړنه پیل کړه، پته را ته ولګېده یوه ویبپاڼه (spinta.de) هم شته چې د لایق په باب مالومات او د لایق آثار خپروي؛ هلته مې چې سر ور ښکاره کړ، د لایق او د لایق په باب له مالوماتو سره د لایق آثار او د لایق په باب د لیکل شوو مقالو تر څنګه، د لنډیو په باب په پښتو او دري ژبو باندې د سلیمان لایق په قلم لیکل شوې مفصل او هر اړخیزه مالومات هم ایښودل شوی وو.

په پشتو برخه کې یې د لنډیو په باب هغه مقالې را اخستل شوې دي چې د افغانستان د علومو اکیډمۍ په نشراتي ارګان کابل مجلې د ۱۳۸۵، ۱۳۸۶، ۱۳۸۷ په بیلابیلو ګڼو کې چاپ شوې دي. د یادو مقالو سر لیکونه دا دي:

ـ پښتانه په لنډیو کې، لومړۍ برخه،
ـ پښتانه په لنډیو کې، دویمه برخه،
ـ د لنډیو مآخذونو ته یوه کتنه، لومړۍ،
ـ د لنډیو مآخذونو ته یوه کتنه، دویمه برخه،
ـ د لنډیو مآخذونو ته یوه کتنه، دریمه برخه
ـ د لنډیو مآخذونو ته یوه کتنه، څلورمه برخه.

د همدغو بحثونو په ترڅ کې یې د لنډیو په باب ډېر په زړه پورې بحثونه کړي دي چې ما د لنډیو په باب د مقالو د سلسلې په دویمه برخه کې استفده ورنه کړې ده. په یاده مقاله کې د لایق د بحث اړوند داسې راغلي دي:

«ښاغلی لایق دافغانستان دعلوموا کاډیمۍ په نشراتي ارګان کابل مجلې د۱۳۸۶ هجري شمسي کال په ۱- ۲ ګڼه کې، «د لنډیومسخ کوونکي» تر سرلیک لاندې په زړه پورې بحث کړی دی او دا یې په ښه کړي دي چې، که لنډۍ څوک په ځان پورې منسوبې کړي، نو اصیل فولکلور ته به یې ډېر تاوان رسولی وي او دا یې هم ښوولي دي چې د تاریخ په اوږدو کې چا او چا دا کار کړی دی. دی د خپل **بحث** په ترڅ کې داسې وایي:

«... هغه کسان چې د ولسي لنډیو د ثبتولو او د هغو د فکر او فورم د غلا کولو او مسخ کولو له لارې د خپلو ځانګړیو مجموعې او دیوانونه خپروي، د اسطورو او فولکلورونو په مسخ کوونکو او ادبي جعلکارانو کې شمیرل کیږي. په وروستیو کلونو کې چې لنډیو مقبولیت پیدا کړی دی او د نړیوالو پاملرنه یې ځانته را اړولې ده، له دې سره غبرګ دا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولۍ

ستونزه هم را منځ ته شوې ده چې ځینې ښاغلي د ځاني لنډیو هستونو او چاپولو ته هڅیدلي دي. ځینې خو لا د پښتني فرهنګ ودې ته د خدمت په نیت داسي هم کوي چې خپلي لیکلي لنډۍ له ولس څخه د راټولو شویو لنډیو سره په مخلوط توګه او بې تفکیکه چاپ ته رسوي او خپروي يې...»
دغه کار د لایق له نظره « په رډه رڼا ورځ غلا کول او د تاریخ مسخ کول دي» او هغو کسانو چې دا کار کړی دی، لایق په خپله لیکنه کې، یو په یو ښودلي دي. هغه کسان دا دي:
۱ـ په ۱۹۷۷م کال کې د پېښور پوهنتون پښتواکاډیمی، د محمد ادریس صاحبزاده د لیکلو لنډیو مجموعه د «ټپې او د شعور رود» تر نامه لاندي خپره کړه.
د لنډیو دا جونګ ما(آصف بهاند) په کابل کې لیدلي و، لوستلي مې هم و او په خپل شخصي کتابتون کې مې درلود، خو په یاد مې نه دي چې څومره لنډۍ په کې خوندي شوې وې او اوس مې په اروپا کې د «قحط الکتاب» په تاریکه کې کله نه دی تر سترګو شوی.
۲ـ د لایق د لیکنې په استناد، د لنډیو بله دې ته ورته مجموعه «عوامي ټپې» نومیږي، چې ښاغلي سید اکبر صابر خپره کړې ده.
۳ـ د لنډیو بله ټولګه چې په دې لړ کې معرفي شوې ده، د سیدا ګل غریبیار ټولګه ده په ۱۹۹۷م کال کې په امریکا کې ټوله شوې، ټولې ۳۷۱۵ لنډۍ په کې چاپ شوې دي او ختیځ کلتوري ټولنې په پېښور کې خپره کړې ده.
د دغو دوو پورتنیو یادو قلموالو دغه هڅه لایق پښتو ادب ته خدمت نه، بلکې د لنډیو د اصالت او علمي اعتبارته زیان بللی دی.
۴ـ ډانمارکي محقق ینس اِنه فولدسین( Jens Enevoldsen ) د پښتو لنډیو او متلونو یو جونګ، له انګلیسي ژباړې سره، د «سپوږمیه کړنګ وهه را خیژه» تر سر لیک لاندې خپورکړ. په دغې ټولګې کې یوه مقدمه، سل لنډۍ، سل متلونه، شپږ انځورونه او په پای کې د نومونو یو فهرست راوړل شوی دی.
دغه ټولګه مې چې په ډنمارک کې د لومړي ځل له پاره ولیدله، نومې ژر فوتوکاپي کړه او اوس مې په واک کې ده.
دغه ټولګه دوه ځلي چاپ شوې ده. لومړی ځل په ۱۹۶۹م کال او دویم ځل په ۲۰۰۰ م کال.
هغه څه چې لایق خپله مقاله (کابل مجله) کې طرح کړي دي (لنډۍ دې د ولس له آزمینې وروسته ثبت شي ) د هغه په باب څیړونکي څه وایي، که پر خپل ځای و دریږو او هر څه په خپل حالت پریږدو چې لنډۍ مسخ نه شي، بیا د نویو لنډیو د ثبت مسآله څنګه کیږي؟
د لایق نظر داسي دی چې لنډۍ لومړی باید د ولسي نقد له میچنې را وزي چې ډله ایزې لاسوهنې او سمونې په کې وشي، د عامو خلکو له خوا ثبت شي؛ بیا نو ولسي سندرې ور ته ویلای شو.
دا چې د لایق له دې طرحې سره نور څیړونکي څه وایي، زه نه پوهیږم، خو زه خپله په دې نظر یم چې اوس ژوند بدل شوی، هغو پخوانیو ټولنیزو اړیکو کې ژور بدلونونه راغلي دي. کور، کلی، طرز تفکر، د ژوند وسایل، ارتباطات او... بدل شوي دي او ورځ تر بلې بدلیږي پسې. که د لنډیو او نورو فولکلوري ژانرونو د ثبت څرنګوالی یا لیکل هم بدل شي، څنګه به وي؟ زه هم د دې نظرتینګ پلوي یم چې لنډۍ د یوه ټاکلي شخص مال نه، بلکې د ټولو خلکو مال دی. که يې څوک خپله هم جوړه کړي، حق نه لري چې خپل نوم په لنډۍ پسې ولیکي یا د لنډیو کومه ټولګه په خپل نامه چاپ او خپره کړي؛ خو که يې ثبتول همداسي پریښودل شي، نو د هغو لنډیو سرنوشت به څنګه شي چې نه دي ثبت شوي؟»
دغه راز په سپینتا دات ډي اي (Spinta.de) کې په دري ژبه باندې هم د لنډیو په باب مفصل بحث راغلی دی او دغه موضوعات په کې څیړل شوي دي:
ـ شناخت فشرده لنډۍ،
ـ منظره سازي و تصویر کشي در لنډۍ ها،
ـ وحت الوجود در لنډۍ ها،
ـ مضمون اساسي کاخ تغزل در لنډۍ ها،
ـ پرورش عنعه ملي در لنډۍ های زنانه،
ـ شوریدن زن بر مرد فاقد مردانګي و شایستګي در لنډۍ ها،
ـ مسأله تحول جایګاه اجتماعي زن پشتون و لنډۍ ها،
ـ مرګ، زنده ګي و تحول پذیري لنډۍ ها.

له دې نه وروسته د لنډیو په باب د لایق هغه مقالې د یادولو وړ دي چې په دې ورستیو وختونو کې يې په کابل مجله کې خپرې کړې دي.
کله مې چې د ۲۰۱۵ کال د آپریل او مې میاشتې څو ورځې په کابل کې تیرې کړې، د لنډیو په باب زما د لیکنو او څیړنو له پاره مې د موادو د پوښتنې په ترڅ کې د کابل مجلې د ۱۳۹۲ کال ټولې ګڼې او د ۱۳۹۳ کال ۱-۲ ګڼې په پې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دي اف بنه په هغه وخت کي د افغانستان د علومو اکاديمی غړي او د نشراتو ريس ښاغلي څيړنوال ظاهر شکيب په مرسته تر لاسه کړې چې دلته د زړه کومې د هغه له دې علمي مرستې نه مننه کوم.
په دغو يادو ګڼو کې د لنډيو په باب د ښاغلي لايق ځينې مقالې چاپ شوي دي او بحثونه يې تر پخوا نوي او د پاملرنې وړ دي، ښايي دا سلسله به اوږده وي او په نورو ګڼو کې به يې په لنډيو کې ځينې نور تولنيز مسايل هم څيړلي وي چې ما نه دي ليدلي، خو هغه سر ليکونه چې په يادو کليکسيونونو کې زما له نظره تير شوي دي ، هغه دا دي:

- په لنډيو کې د اسطوره يي هويتونو غبرګون، دريمه برخه، دېب ( ديو ) په لنډيو کې، کابل مجله، ۱۳۹۲ کال ۱-۲ ګڼې،
- په لنډيو کې د اسطوره يي هويتونو غبرګون، څلورمه برخه، د پيرې اسطوره، کابل مجله، ۱۳۹۲ کال ۳-۴ ګڼې،
- په لنډيو کې د اسطوره يي هويتونو غبرګون، پنځمه برخه، د ښاپيرۍ اسطوره، کابل مجله، ۱۳۹۲ کال ۵-۶ ګڼې،
- ښځه او لنډۍ، لومړۍ برخه، کابل مجله، ۱۳۹۲ کال ۷-۸ ګڼې،
- ښځه او لنډۍ، دويمه برخه، په لنډيو کې د ملي دود پالنه، کابل مجله،۱۳۹۲ کال ۹-۱۰ ګڼې،
- ښځه او لنډۍ، دريمه برخه، آيا لنډۍ حماسه ده؟ کابل مجله، ۱۳۹۲ کال ۱۱- ۱۲ ګڼې.

د دې برخې د پای له پاره څو لنډۍ:

زما نه مشر له يې ورکړې
ما چې غوښتې مور به دې عمر يادونه

ستا يارانه د ناړی خوړ دی
د ناړی خوړ تر غنم لوه پورې وينه

په سر دې شل ګزه پګړی وه
زه دې له پکه سره څه خبره ومه

خانان خو بيا سره خانان سوه
تر خاورو لاندې سوه رامبيل چامبيل ګلونه

جانان د شونډو وعده راکړه
اوس مې له خولې ورته اوبه رواني دينه

د دروازې ملنګ ته وايه
تکيه دې خدای شه، موږ ور پورې کوونه

څوک د وطن په ننګ شهيد شو
چا د شهيد په وينو جوړ کړل بلډينګونه

څوک له ملا نه تپوس وکړئ
که په خولګی روژه ماتيږي غرقه شومه

د اوبو غوړپ کولای نه شم
د زړه پر سر مې د يار نوم دی وران به شينه

د اوه ويشتمې برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ